NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

## د افغانستان د ۱۳۸۸ د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو د ناظرينو د پلاوي لومړنۍ بيانيه

## کابل د اګست د مياشتې ۲۲ کال ۲۰۰۹

دا لومړنۍ بيانيه د افغانستان د ۱۳۸۸ کال د اسد د مياشتې د ۲۹ د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو د ناظرينو د پلاوي لخوا وړاندې کيږي. نوموړي پلاوي د اګست د ۱۶ څخه تر ۲۰ پورې د افغانستان څخه ليدنه وکړه. د نوموړې پلاوي مشري د امريکا د پخواني سناتور ګاري هارټ او د بهرنيو چارو په وزارت کې د سهيلي اسيا د چارو پخواني مرستيال کارل انډرفورت ، د کاناډا د پخواني لومړي وزير او بهرنيو چارو وزير مرستيال جان منلي ، د ايرلنډ هيواد پخوانی د عدلې وزير نورا اُوين ، د جګړې وروسته د بيا رغوني د پروژې مشر او د ستراتيژيکو او نړيوالو مطالعاتو پخوانی همکار کارين وُن هيپل ، د اسيايي ټولنې اجرايوي مرستيال جامي ميزل، د ملي ډموکراتيک انستيتيوت عمومي رييس کينيټ ولاک او د ملي ډموکراتيک انستيتيوت د اسيايي پروګرامونو مسؤل پيټر مانيکاس لخوا په ګډه کيدله. د نظارت ددغه پلاوي بوديجه د يوسايډ (USAID) د مالي مرستې په مټ برابريدله.

د ټاکنو په ورځ امنيتي وضعيت د نظارت کوونکو ډلې د ملي ډموکراتيک انستيتيوت په ګډون د هيواد د ځينو برخو د نظارت څخه تم کړې، په ځانګړي ډول د هيواد سهيلي او سهيل ختيځي سيمي کې. مګر بياهم د ملي ډموکراتيک انستيتيوت د ۱۰۰ تنو څخه زيات اوږدمهالي او لنډ مهالي ناظرين ګمارلي ؤ چې ملي نړيوال ناظرين پکښې شامل ؤ، د ناظرينو د نوموړي پلاوي په نړيوالو ناظرينو کې د دولت اوسني او پخواني چارواکي، د سياسي ګوندونو او ټاکنو چارواکي، قانون جوړونکي، د ډموکراسۍ استازي، د بشر د حقوقو سازمانونه او په افريقا، آسيا، استرليا، آروپا منځنی ختيځ او شمالي او سهيلي امريکا د ۱۱ هيوادونو اکاډميک کسان پکښې شامل دي. د ملي ډموکراتيک انستيتيوت د ټاکنو د ورځې پلاوی د هيواد د ۳۴ ولاياتو څخه په ۱۹ ولاياتو کې د نظارت لپاره وګمارل شول چې نژدې ۵۰۰ د رايې اچونې محلونه يې مشاهده کړل.

د پلاوي لاسته راوړنې د ۲۷ تنو ملي او نړيوالو ناظرينو لخوا چې د افغانستان د سيمو په مرکزونو کې ميشت ؤ، د يوراپور په ترڅ کې وړاندې شو. دغو اوږدمهالو ناظرينو د جولاې د مياشتې خخه د ټاکنو د بهير څارنه کوله. همدارنګه د ملي ډموکراتيک انستيتيوت د نظارت برخو د بې طرفه داخلي سازمانونو د روان افهام او تفهيم څخه چې په زرګونو ناظرين يې ګمارلي ؤ، هم ګټه پورته کړه. د ټاکنو څخه دمخه د ملي ډموکراتيک انستيتيوت پلاوي د ولايتي شوراګانو او ولسمشرۍ له نوماندو، د سياسي ګوندونو د رهبرانو، د رسنيو د نظارت کميسيون، دولتي چارواکو، د ټاکنو د خپلواک کميسيون استازو، د ټاکنو د شکاياتو کميسون، نړيوالو او ملي مؤسساتو، د ميرمنو ډلو، د ټاکنو ملي ناظرينو او د ډيپلوماتيکې ټولنې د غړو او د بسپنه کوونکو سازمانونو، سره وکتل.

د پلاوي هدف په افغانستان کې د ډموکراتيک بهير د پرمختيا په برخه کې د نړيوالې ټولنې مسلسل ملاتړ ښودل او د اسد د ۲۹ په ټاکنو کې همکاري کول ؤ. د ملي ډموکراتيک انستيتيوت خپل فعاليتونه د افغانستان د قوانينو او د ټاکنو دنظارت د نړيوال چلند د اصولو د اعلاميې سره سم ترسره کړل.

پلاوی پدې پوهيږي چې د پايلو رقم اوس هم د کار لاندې دی، رسمي پايلې لاتراوسه نه دي اعلان شوي، او د ټاکنو اړوند شکاياتو او ننګونو باندې بايد غور وشي او د قانون سره سم بايد حل او فصل شي. دا په ځانګړي ډول د افغانستان د امنيتي وضعې په داخل کې اهميت لري، پداسې حال کې چې ډيرې په ټاکنو پورې اړوند ستونزې کيداې شي چې د هيواد په هغو سيمو کې رامنځته شي چيرې چې ناظرين پوره لاس رسی نلري، نو د نوموړو

سيمو دقيق وضعيت د اوس لپاره نشي بررسي کيداي ترڅو د ټاکنو وروستی پايلي په ګوته شي. ددې ترڅنګ که چيرې کوم کانديد د رايو اکثريت ترلاسه نه کړي نو ددوهم ځل لپاره به وروستی ټاکنې ترسره کيږي، په پاي کې بايد ووايو چې يواځې خلک کولاي شي چې د ټاکنو باوريتوب په ګوته کړي. نورې بيانې به د ټاکنو څخه وروسته وخت کې خپرې شي او د ملي ډموکراتيک انستيتيوت به هغه مهال خپل وروستی راپور وړاندې کړي چې د ټاکنو بهير پاي ته ورسيږي.

**عمومي کتنه**

د اسد په ۲۹ افغانانو رايې ورکړې ترڅو خپل ولسمشر او د ولايتي شوراګانو غړي وټاکي، دا د هيواد په تاريخ کې يواځې دوهم ځل دی چې ټاکنې ترسره کيږي. مګر لومړۍ ټاکنې وې چې د افغاني ادارو لخوا تنظيم اوترتيب شوې، او د ټاکنو لپاره چمتوالی پداسې حال کې وشو چې د هيواد په سهيل او ختيځ او وخت ناوخت د هيواد په په نورو سيمو کې هم تاوتريخوالي او امنتيي ستونزې موجودې وې. کله چې د ټاکنو ورځ رانژدې شوه نو طالبانو هڅې وکړې ترڅو ټاکنې له خنډ سره مخ کړي او د بايکاټ غوښتنې يې وکړې، همدارنګه د رايي ورکوونکو د تهديد او هغوي ته د سزا ورکولو خبر ورکړ، مګر د تهديد او خبرداريو سره سره افغان نوماندو په فعال ډول کمپاين وکړ او افغانانو د ټاکنو په بهير کې د ونډې اخيستلو ټينګه علاقه وښوده. د ټاکنو په ورځ تهديدونو په ځانګړي ډول د رايې اچونې محلونو او په خپله رايې ورکوونکو باندې تمرکز وکړ. مګرعلاوه پر دې د هيواد په لر او بر کې افغانانو د ټاکنو په بهير کې ونډه واخيسته. افغان ولس د ټاکنو په ورځ خپل پوره زړه ورتوب او شهامت ښرګند کړ ترڅو ولس د يوې ډموکراتيکې لياري په لور بوزي.

**د ملي ډموکراتيک انستيتيوت ناظرينو د ټاکنو په ورځ د ټاکنو ترسره کيدل له مختلفو لپارو وليدل.** په هغو سيمو کې چې افغانانو کولاي شول چې د ټاکنو بهير بې له کوم خنډ او تهديد څخه ترسره کړي، په نومړو سيمو کې ټاکنې په منظم ډول پرمخ تللې. د هيواد په ډيری شمالي، لويديځو او مرکزي سيمو کې ټاکنې په نسبتاً آرامه فضاء کې ترسره شوې. په ډيری سهيلي، سهيل ختيځو ولاياتو او د مرکز په ځينو سيمو کې لکه لوګر او وردګ کې، د توندلارو تهديدونو د رايې اچونې بهير له خنډ سره مخ کړ، او د رايې ورکوونکو په ګډون باندې يې اغيز لرلو په ځانګړي ډ□ل د ښځينه رايې اچونکو په ګډون باندې. په نومړو سيمو کې د ناظرينو نشتوالی د هغوي د بررسي کيفيت ناڅرګندوي. مګر لکه څرنګه چې تهديدونو په ټاکنو باندې مهم اغېز لرلو، بياهم بهير يې دومره زيانمن نکړ څومره چې خلک اندېښمن ؤ.

**د ۱۳۸۸ کال د ټاکنو ټول اړخونه د ډموکراتيکو اصولو سره برابر ؤ.** د طالبانو د راپرځيدو څخه دمخه افغانستان د ډموکراسی په اړه هيڅ راز تجربه نلرله. د طالبانو د ريژيم پرمهال ميرمنې د ملت د هر راز سياسي او ټولنيز ژوند څخه مستثنی ګڼل کيدې. د ۱۳۸۸ کال په ټاکنو کې ۳۸ کانديدانو د ولسمشرۍ د ترټولو اوچت مقام لپاره سيالۍ وکړې چې دوه تنه يې ميرمنې وې، همدارنګه ۳۲۶ تنو ميرمنو د ولايتي شورا د غړو لپاره ځانونه کانديد کړي ؤ چې دا شميره د ۲۰۰۵ م کال د ولايتي شورا د ټاکنو په پرتله زياتې وې چې د نومړي کال په ټاکنو کې د ميرمنو کانديدانو شمير يواځې ۲۸۵ تنه وې.

لکه څرنګه چې د ټاکنو پايلې تراوسه څرګندې ندي، مګر د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د کانديدانو شديد کمپاين او عمومي نظرسنجې چې د ټاکنو څخه وړاندې ترسره شوې، دابښيي چې د افغانستان سياسي نظام ترهغه ډير په سيالۍ کې روان دی چې خلکو يې باور کولو. د ولسمشرۍ د ټاکنو څخه دمخه ډيری کانديدانو له پرګنيزو کرښو واوښتل او د هيواد په ټولو سيمو کې يې ټاکنيز کمپاين ترسره کړ. کانديدانو ډيری وخت د هيواد په نسبتاً ناامنو سيمو کې د خلکو د ډيرو ګڼو ګونو پام ځانته راواړوه، ځينې وختونه د کمپاين فعاليتونه د کانديد د ملاتړ په شخصي کور کې ترسره شول. ټاکنې د کانديد د ملاتړو په ګډون په ځانګړي ډول د ښخړو څخه پاکې وې. له دې سره سره د عمومي نظر سنجيو چې په افغانستان کې ترسره شوې، په مکرر ډول وښودل چې د افغانانو اکثريت به د بل قوم دډلې د غړي لپاره رايې په پام کې ونيسي.

د کمپاين په مهال په مسألو او پيينو باندې هم تمرکز موجود ؤ. دا پداسې حال کې ده چې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو د ټاکنو په مهال دا ډول کمپاين نه ترسترګو کيده. دا په افغانستان کې د ولسمشرۍ لومړۍ ټاکنې وې چې ملي مناظرې پکښې ترسره شوې، چې نومړې مناظرې د ډيرو رسنيو لخوا ترپوښښ لاندې راوستل شوې او د مېونونو افغانانو

لخوا وکتل او واوریدل شوې. ددې ترځنګ د هیواد په ټولو برخو کې ټاکنې ډیرې منظمې وې. د ټاکنو مواد په خپل وخت سره توزیع شول، د رایې اچونې د محلونو کارکوونکې په پوره ډول وروزل شول، ملي او نړیوال ناظرین او د کاندیدانو استازې حاضر ؤ او ټاکنې په عمومي توګه په روڼ ډول سره ترسره شوې.

**مګر بیاهم په ټاکنو کې یو لړ سختې تیروتنې (عیبونه) هم شاملې وې چې په راتلونکو ټاکنو کې په تکامل باندې د باور د لوړولو لپاره باید په پام کې ونیول شي.** د مثال په توګه د ټاکنیزې ادارې د پرمختیا لپاره ډیر کار کولو ته اړتیا ده. د نوم لیکنې بې پروا بهیر د یو ځل څخه زیات نوم لیکنې او د هغو کسانو نوم لیکنې ته لار هواره کړه کوم چې د نوم لیکنې د شرایطو سره برابر نه دي. نو په پایله کې پراخه موافقه پدې باندې موجوده ده چې د هغو افغانانو له شمیر څخه چې د نوم لیکنې د شرایطو سره برابر ؤ، ډیرو کسانو نوم لیکنه کړې وه، یعنې نوم لیکنه د خپلې اندازې څخه زیاته وه، چې د ا د درغلیو کچه لوړوې او نورې بدرفتاری رامنځته کوي او کولای شي چې د ټاکنو په تکامل او د نظرپوښتنو په بنسټونو باندې د افغانانو باور ختم کړي. نورې سوء استفادې لکه د دولتي منابعو څخه سوء استفاده او د بل چا پرځای رایې اچول هم د هیواد په ځینو برخو کې ترسترګو شول چې په ځانګړي ډول یې د ټاکنو باوریتوب تر اغیز لاندې راوست.

ددې ترځنګ د ټاکنو خپلواک کمیسیون چې غړي یې د قانون جوړونې د نظارت څخه پرته، د ولسمشر لخوا ټاکل کیږي، د ټاکنو د بهیر د ډیرو عمده ونډه والو لخوا چنداني خپلواک نه ترسترګو کیږي. لکه څرنګه چې کمیسون خپل ډیری فعالیتونه په ښه توګه ترسره کړل مګر بیاهم د هغه باوریتوب یواځې د هغه په فعالیتونو پورې تړاؤ نلري بلکه د هغه په بې لوریتوب په اړه په عمومي نظر پورې تړاؤ لري.

**په ټاکنیز بهیر کې د میرمنو حقوق ځانګړي پام ته اړتیا لري.** سره له دې چې د میرمنو مخ په ډیریدو شمیر د ټاکنو په بهیر کې ونډه لري مګر بیاهم د هغوي د ونډې پرمخ خنډونه موجود دي. ښځینه کاندیدانې او سیاسي فعالانې په ځانګړي ډول د تاوتریخوالي د تهدید ښکار ګرځي چې هغوي په آزاد ډول د کمپاین کولو څخه تم کوي. د ولایتي شوراګانو د هغو ښځینه کاندیدانو د لیدو څخه دا معلومیږي چې د هغوي د کمپاین وړتیا د امنیت د نشتوالي له کبله د منفي اغیز لاندې راغلي دي. د ټاکنو د خپلواک کمیسون ناتواني چې نشي کولای د میرمنو د رایې اچونو د محلونو د اداره کولو لپاره پوره ښځینه کار کوونکې وګماري، کولای شي چې میرمنې د رایې اچونې څخه تم کړي. میرنې د بل چا پرځای د رایې اچونې لپاره هم ډیرې جوړې دي ځکه چې د هغوي د نوم لیکنې په کارت کې د هغوي د عکس لګول اختیاري دي نو له همدې کبله کولای شي چې د درغلیو لامل شي.

**تاوتریخوالی او د تاوتریخوالي تهدید د ټاکنو د بهیر ډیرې برخې جوړې کړي دي.** د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي ستونزې په پوره ډول د افغان دولت او د ټاکنو د خپلواک کمیسون په واک کې ندي، مګر د خلکو د لومړنۍ ډموکراتیک بهیر د پرمختګ او خوندي پاتې کیدو لپاره دا مهمه ده چې روان بغاوت پای ته ورسول شي. د هیواد په ناامنو سیمو کې د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو په پرتله د ولایتي شوراګانو د کاندیدانو شمیر کم ؤ (اګر چې د تیرو ټاکنو په پرتله د کاندیدانو شمیر لوړ ؤ)، چې ناامنو سیمو د ټاکنو د خپلواک کمیسون د وړتیا نشتوالی د رایې اچونې د محلونو لپاره د کارکوونکو په ګمارلو کې څرګند کړ او همدارنګه د هیواد خطرناکو سیمو ته چیرې چې د درغلیو امکان ډیر دی، د نړیوالو او ملي ناظرینو محدود لاس رسی په ګوته کړ.

**دغو ټاکنو په ډاګه کړه چې په ملیونونو افغانان غواړي چې نیغ په نیغه د هیواد په پرمخ تلونکې ډموکراتیک نظام کې ونډه ولري.** د ۱۳۸۸ کال د اسد د میاشتې ټاکنې د هیواد د ډموکراتیک نظآم د جوړولو په لور ترټولو وروستی ګام ؤ. پلاوي په ټینګه باوري دی چې نړیواله ټولنه باید له هغوي سره پدې لړ کې خپلو مرستو ته ادامه ورکړي. یو ډموکراتیک او په امن کې افغانستان د افغانانو او نړیوالې ټولنې په ګټه دی.

## II. سپارښتنې

د نړیوالو مرستو په اساس د ملي ډموکراتیک انستیتوت لاندې سپارښتنې وړاندې کوي:

الف. د ټاکنو نظارت او چمتووالی

**1. ولسي جرګه باید ددوهم حٔل لپاره د ټاکنو د خپلواک کمیسون د غړو د ګمارلو په څرنګوالي باندې غور وکړي.**

د ټاکنو د خپلواک کمیسون غړي د ولسمشر لخوا د قانون جوړني د نظارت څخه پرته ګمارل کیږي. ددې لپاره چې د پلوی کولو د څرګندیدو او یا د کمشنرانو د پلوي کیدو څخه مخنیوی وشي د کمشنرانو په ګمارلو باندې په چارواکو یو لړ محدودیتونه د غوښتني وړ دي او دا عمل به د غوره نړیوالو کړنو د اصولو سره سمون ولري. په کال ۲۰۰۹ کې ولسي جرګې ولسمشر ته یوه طرح وړاندې کړه چې د ټاکنود کمشنرانو په ګمارلو کې یې خپل ګډون غوښتی ؤ. ولسمشر وړاندې شوې طرح ونه منله. ځکه چې د افغانستان د اساسي قانون ۱۰۹ ماده د ټاکنو قانون د ولسمشری ددوران په وروستي کال کې د هرډول تعدیل مخه نیسي. نو له همدې کبله قانون جوړونکو لپاره اوس ناوخته دی چې راتلونکي ټاکني تراغېز لاندې راولي. مګر بیاهم په خپل اوږدمهال دوران کې ولسي جرګه باید د قانون د تعدیل غوښتونکي شي او ولسمشر باید په غیر رسمي ډول سره د قانون جوړوني سره د کمیسون د غړو د ګمارلو په اړه د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو څخه مخکښي مشوره وکړي.

**2. د رای ورکونکو د ثبت کره لست باید برابر شي.**

د رای ورکونکو لست د ټاکنو د ناسم چلند د مخنوي لپاره او د IEC سره د رای ورکونو په برابرولو کې د مرستي لپاره یوه مهمه وسیله شمیرل کیږي. ټول په دې هاند دي چې د رای ورکونکو د ثبت اوسنی کتاب یو څه ناسم دی، په بعضی ولایتو کې د رای وکونکي شمېر د مجموعي نفوس څخه ډیر شوی دی. د رای ورکوني د زیاتو کاپی او جعلی کارتونو شتون د خلکو اعتبار د ټاکنو پر بهیر له مینځه وړي.

**3. د افغانستان د وګړو سرشمیرنه باید ژر تر ژره ترسره شي.**

د نفوسو کره شمېر له دې امله اړین ګڼل کیږي تر څو د مقنني د غوندې لپاره مناسبې څوکي ځانګړې شي، د ولسوالیو سرحدات وټاکل شي تر څو چاروکو سره د ودې د پروګرامونو په پلانولو کې مرسته وکړي چې دغه مسله د ټاکنو د چاروکو سره د ټاکنو لپاره په تیاري نیوني کې هم مرسته کولې شي. د بون د کال ۲۰۰۱ تړون په دریمه جز کې د ملګرو ملتونو څخه غوښتنه کیږي چې ژر تر ژره سرشمېرنه ترسره کړي. دا سرشمېرنه ترسره شوی نده خو هغه سرشمېرنه چې د ۲۰۰۸ کال لپاره پلان شوې وه، د امنیتي ستونځو له امله وځنډول شوه. اوس د نفوسو شمېر د افغانستان د احصایي د مرکزی دفتر له خوا برابریږي.

**4. نړیواله ټولنه د افغانستان د دولت سره باید په ګډه د راتلونکو ټاکنو لپاره ژر تر ژره تیاری ونیسي.**

په کال ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ کې د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو لپاره یو څه تیاری نیول شوی وو. د بودیجي ستونځو او ځنډونو، د ټاکنو لپاره تیاری، د ټاکنو د چاروکو جلب او جذب او د هغوی روزنه، د رای ورکونکو د روزلو بهیر او د ECC حمایت یې متاثر کړ. د کال ۲۰۱۰ د پارلماني ټاکنو د پیل د وخت پر بنسټ، پلان کول باید ژر تر ژره شروع شي، او هغه درسونه چې د کال ۲۰۰۹ او په مخکېنیو ټاکنو کې زده شوي دي باید په نظر کې ونیول شي.

**ب. د ټاکنو طرحه او سرته رسونه**

**5. IEC باید د ښځینه کارکونکو ګمارل د نوم لیکني او رای ورکوني په مرکزونو کې زیاد کړي**

IEC د ښځینه کارکونکو ګمارلو له امله د نوم لیکني او رای ورکوني په مرکزونو کې ستونځو سره مخ دی، کله چې د کال ۲۰۰۹ ټاکني راورسیدلې نو IEC دا په ډاګه کړه چې د رای ورکوني په هغه مرکزونو کې چې د ښځو لپاره ځانګړي شوي دي ۳۰ فیصد ښځینه کارکونکي کار کوي. د فرهنګ له لحاظه ښځینه

رای ورکونکي اړ ندي چي یو نارینه کس ته خپل مخ ښکاره کړي. نو له دې امله د ښځینه کارکونکو شتون د نوم لیکني او رای ورکوني په مرکزونو کې د ښځو د حقونو د ساتلو لامل ګرځي او دوی هڅوي چې د ټاکنو په بهیر کې ګډون وکړي.

**6. د ټاکنو ټول نوماندان باید وهڅول شي تر څو د ټاکنو د شکایاتو د کمیسیون په پروګرامونو کې چې د کمپاینونو مقررات او د شکایاتونو پراو تشریح کوي ګډون وکړي.**

زیاتره نوماندان د ټاکنو د بهیر په اهکله پوهه نلري او دا کار د ټاکنو د قانون څخه د سرغړوني او په ټاکنو کې د نوماندانو د شاتګ لامل ګرځي. د ونډو او مسولیتونو په اهکله ښه پوه کولی شي چې نوماندان د کمپاینونو د پر لاره اچولني له لپاره چمتو کړي.

**7. یو خپلواک کمیسیون باید وټاکل شي ترڅو د نوماندانو مباحثې تنظیم کړي**
د ولسمشرۍ څوکۍ ته د نوماندو لپاره درې مباحثې تر کال ۲۰۰۹ پورې پر لار واچول شوې. دا مباحثې د خبري رسنیو له خوا تنظیم او ترتیب شوې، خو له بده مرغه په دوه تلویزیونو مباحثو کې د ټولو نوماندانو ګډون تر سترګو نشو. د یو خپلواک کمیسون په منځه راتللو سره د نوماندان اعتماد د مباحثې د بې اړخی په اهکله زیاتیږي او د نوماندان پراخ ګډون هم منځه ته راوړي.

**8. IEC او ECC د روزنېزو پروګرامونو او د کارکونکو د ساتلو لپاره باید پوره بودیجه تر لاسه کړي.**

له څنګه چې د کال ۲۰۰۹ ټاکني راورسیدلې، IEC او ECC ډیر نوي کارکونکي لرل چې هغوی هیچ کومه مخکینی تجربه د ټاکنو د سمبالوني په اړه نلره. همدارنګه د ټاکنو د اداره کولو بودیجه د ټاکنو په آخر بهیر کې تر لاسه شوه چې دې کار د روزنیزو پروګرامونو د پلانولو او پلي کولو لپاره وخت کم پاتې کړ. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو طرحه باید ژر تر ژره پیل شي او دا کار د نړیوالي ټولني او د افغان دولت هڅو ته اړتیا لري چې ژر تر ژره باید دواړه سازمانونو ته اړیني منابعي برابره شي.

**9. د رای ورکونکو د روزنې لپاره باید پانګه زیاته شي او د ښځینه رای ورکونکو د روزنې لپاره هم باید ډیره زیاته هڅه وشي.**
IEC ډیر پراخ روزنیز کمپاین د رای ورکونکو لپاره ترسره کړ چې په هغه کې دیني عالمانو، امتحاني رای ورکونه او تلویزیوني او رادیویي اعلاناتو شتون درلود، مګر د رای ورکوني روزنه هغه خلکو ته چې په لرو پرتو سیمو کې ژوند کوي ونرسید، په دغو سیمو کې خلک خبري رسنیو ته ډیر کم لاس رسی لري او دوی ته د خبري رسنیو پیامونه رسیدلي ندي. همدارنګهIEC ونشو کولای چې ښځینه کارکونکي وګماري په خاص ډول په هغو سیمو کې چې هالته امنیت ډیر کم شتون لري.

**10. یو واضح ضرب الاجل د نوماندانو د شاتګ لپاره باید وټاکل شي.**

کال ۲۰۰۹ ټاکنې د دې شاهد وې چې یو څه نوماندانو د ټاکنو ورځو ته نږدې په شاتګ وکړ، چې دا وخت د نوماندو د لیست څخه د هغوی د نوم ایستني لپاره ډیر ناوخته ګڼل کیږي. او دا کار د سرګرداني لامل هم ګرځي.
د یو واضیح ضرب العجل ټاکل کولای شي چې هغه شک چې د نوماند د شاتګ په اهکله شتون لري له مینځه یوسي.

**11. ولسي جرګه باید د SNTV یا (Single Non-Transferable Vote system) بدیل لارې او چارې ومومي.**

لکه څنګه چي په تیرو مقننه ټاکنو کي، په د ۲۰۰۹ کال د ولایتی شورا په ټاکنو کي SNTV یو ډیر شمیر نوماندان منځ ته راوړل. همدا رنګه SNTV د خپلواکو نوماندو لپاره ډیرې ګټې لري او په آسانه ډول اداره کیږي په همدغه ډول ډیر زیانونه هم لري، چي دا کار د ټاکنو لپاره د ډیرو ټیټو thresholds لامل ګرځي ( په تیرو مقننه ټاکنو کي یو نوماند کولای شول چي د یو فیصد څخه لږ رایو په ګټولو سره په کابل کي یوه څوکۍ وګټي). او د سیاسي ګوندونو ګډون ورو کوي. لکه څنګه چي اوس به ډیره ناوخته وي چي د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کي د بدلونونه لپاره هلې ځلې وشي، د SNTV د سیستم د تناسب بیاکتنه باید په راتلونکي مقننه غونډه کي باید ډیره جګه وي.

**12. ECC د کال ۲۰۰۹ ټاکنو څخه وروسته باید ژر تر ژره جوړ شي او ټولي هغه اړینې زیرمې د راتلونکي کال د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره ورته برابرې شي.**

د ټاکنو قانون دا اړتیا ویني چي ECC باید ۳۰ ورځې د ټاکنو پایلو د تصدیق څخه وروسته خپل کار ودروي. ECC د کال ۲۰۰۹ د تیاري، د خپل د کارکونکو د روزنه او د شکایاتو د بهیر په اهکله د خلکو د پوهاوي په لپاره پوره وخت ندرلود. د دې لپاره چي ECC د راتلونکي ولسي جرګې د ټاکنو لپاره ښه تیارې ونیسي نو باید ژر تر ژره تاسیس شي، مکمله پانګه ترلاسه کړي او خپل کار پیل کړي.

**ج. د رسنیو ونډه**

**13. د رسنیو یو نوی قانون باید د دولتی رسنیو د خپلواکی لپاره تصویب شي.**
د افغانستان دولت باید د افغانستان راډیو تلویزیون RTA یو ټولیز مسول او خپرونکي رسنۍ ته واړه وي چي په ټول هیواد کي خلک هغه ته لاس رسی ولري او د ټولیز پروګرامونو لپاره ځانګړی شي. د دې پروګرام محتویات باید د افغانستان په راز راز سیمو او خلکو باندې اغیزه ولري. د دې خپلواکي باید د هغو حدودو سره سم وي چي د رسنیو په قانون کي یی وړاندیز او په کال ۲۰۰۸ کي د ولسي جرګې له خوا تصویب شوي دي، مګر د ولسمشر له خوا د قانون په بڼه ندی لاسلیک شوی.

**14. IEC، ECC او د رسنیو کمیسون د رسنیو د چلند قانون باید پلی کړي.**
د رسنیو د چلند قانون بیانوي چي IEC ، ECC او د رسنیو کمیسون کولی شي چي بندیزونه تحمیل کړي او نور عمده قدمونه د قانو د احکامو د سرغړوني په اهکله اوچت کړي، په شمول دې هغه کسانو چي بی طرفي، کره توب، تناسب او مساوی حقوق ټاکي. دغه کسان باید ډیر جدي عکس العمل وښیی او بندیزونه تحمیل کړي او هان د دولتی رسنیو په مقابل کي چي د قانون څخه سرغړونه کوي مناسب تدبیر ونیسي.

**د: امنیت**

**15. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو د امنیت د پاره باید هلې ځلې همدا اوس پیل شي:**

د امنیت موضوع د افغانستان د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو څو اړخو ته یعنی د نوماندانو د وړوالی نه نیولی تر ټاکنیزو مبارزو، د **IEC** د کارکوونکو په کار ګمارلو، د ټاکنو کورني ناظرین او نړیوال څارونکي او د ښځو د حقونو خوندی کول تر څو په ټاکنو کي په پوره توګه ګډون وکړي په اړه د ارزښت وړ ده. د راتلونکو پارلمانی ټاکنو د امنیت لپاره د افغان ملی پوځ، ملی پولیسو ، اړوند وزارتونو او همدا رنګه د نړیوالي ټولني تر منځ د همکارۍ اړتیای لیدل کیږي. د امنیتی ګامونو پورته کول د راتلونکي کال د ټاکنو د بریالیتوب او د ملت د ثبات لپاره مهم دي.

**16. د ټاکنو خپلواک کمیسون یا IEC باید د رائ ورکولو د ټولو مرکزونو امنیت وڅیړي او څرنګه چې ټاکني نږدی کیږي نو په وار وار باید د دې مرکزونو امنیت ته بیا کتنه وشي.**
د ټاکنو خپلواک کمیسون د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو تر رارسیدو پورې د رائ اچونې د ټولو مرکزونو د ساحی امنیت په پراخه توګه نه و څیړلی. بهتره سمبالونه په کار ده تر څو د ټاکنو د هر مرکز د امنیت د تیاری ډاډ تر لاسه کړو اوکافی وخت وموندو تر څو د ټاکنو لپاره کارکوونکي په کار وګمارو.

**17. افغان امنیتي ځواکونه باید د رائ ورکولو د ساحو د امنیت یواځني سمبالوونکي وي.**
د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو د امنیت لپاره د ملیشو د ګمارلو وړاندیز شخړه رامنځ ته کوی. دا جوته شوې نده چې دا وړاندیز شوي ملیشی به څرنګه کار وکوي او د دوی اړیکي به د نور امنیتي ځواکونو لکه افغان ملي پوځ، ملي پولیسو او نړیوال پوځونو سره په څرنګه وي.

## III. د ټاکنو انځور

### د ټاکنو قانوني جوړښت

هغه قانوني جوړښت اساسات چې د افغانستان ټاکني ځاري عبارت دي د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون، د ټاکنو قانون، د ټاکنو د خپلواک کمیسون د جوړښت قانون، د سیاسی ګوندونو د قانون، د جمهور ریس د اجرا وړ حکمونه او د ټاکنو د کمیسون د قواعدو او کړنلارو څخه.

د افغانستان د اساسي قانون په لومړي فصل کې نړیوالو معاهدو او تړونونو ته او د بشر د حقونو نړیوال اعلامیې ته د درناوي ذکر شوي دی. د نړیوالی اعلامیې په ۲۱ ماده کې راغلي دي چې ؛ د خلکو خوښه باید د حکومت د واک بنسټ وي، او دا باید په اصلي او مهالي ټاکنو کې څرګنده شي...؛ افغانستان هغه ستر نړیوال تړونونه چې د ټاکنو معیارونه په کې ذکر دي لاسلیک کړي او یا هم منلي دي. د اساسي قانون دویم فصل د هغه اساسي حقونو او دندو د ساتني یادونه کوي چې د نړیوالو معیارونو سره د سمو ټاکنو د ترسره کولو لپاره د ارزښت وړ دي. دغه حقوق عبارت دي له ؛ د ټاکلو او د ټاکل کیدو حق؛ د بیان د آزادي حق، د جرګو، د سفر او د سیاسی ګوندونو د جوړلو حق.

د اساسي قانون ۱۵۶ مه ماده د ټاکنو د خپلواک کمیسون د جوړښت حکم کوي. د اساسي قانون ۶۱ مه ماده په هرو پنځو کالو کې د ولسمشر د ټاکلو لپاره د ټاکنو د کیدو حکم کوي. که چیرې هیڅ یو نوماند په لومړي پړاو کې د رایو 50 په سلو کې ونه ګټي نو دوهم پړاو باید د لومړي پړاو د نتیجې د اعلان څخه دوه اونی وروسته ترسره شي. د اساسي قانون ۱۳۸ مه ماده د ولایتي شوراګانو د غړو د ټاکلو لپاره په هره څلورو کلونو کې د ټاکنو د ترسره کیدو حکم کوی.

د ټاکنو د خپلواک کمیسون جوړښت او مسئولیتونه د جمهوري ریاست په ۲۳ شمیره حکم او د ټاکنو په قانون کې په ګوته شوي دي. د ټاکنو خپلواک کمیسون ۷ غړی لري چې د ولسمشر لخواه ټاکل کیږي. دغه کمیسون تلن لاری ته وده ورکوی او د ټاکنو د ترسره کیدو لپاره د چمتووالي څارنه کوي. د ټاکنو خپلواک کمیسون یو معاونیت لري چې د ټاکنو د یو لوړ پوړي مامور لخواه پر مخ بیول کیږی او د ۳۴ ولایتي دفترونه ادراه کوي.

**هغه ټاکنیز سیستم چې د مقننه ټاکنو لپاره لکه د ولسي جرګې او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره په کار وړل کیږي، یو کسیز او غیر منقول ټاکنیز سیستم یا single non-transferable vote system دي، چې په هغه کې هر رایه ورکوونکی د ټاکنو په حوزه کې یواځې یو نوماند ته باید رایه ورکړي.**

ده یوه غیر معمولي سیستم دي، دا سیستم د پر افغانستان سربیره یوازې په دریو نورو هیوادونو کې لکه اردن، پتکارن په ټاپوکانو او په وناتو کې پکارول کیږي. د تیرو مقننه ټاکنو په څیر د ۲۰۰۹ کال د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې دغه سیستم د نوماندانو د ډیریدو سبب شو. دغه سیستم ځني ګټي لري اول داچې د هغه ترسره کول آسانه دي او دویم دا چې آزادو نوماندانو ته په ټاکنو کې د ګډون فرصت ورکوي. همدا رنګه دا سیستم ډیرې نیمګړتیاوې لري، د دغه سیستم له لارې په ټاکنو کې د رایو ډیره ټیټه کچه لاسته راتللی شي ( په تیرو ټاکنو کې یو نوماند کولای شول چې د ۱ فیصد نه په کمو رایو سره په کابل کی بری ترلاسه کړي، همداد رنګه په ټاکنو کې د سیاسی ګوندونو ګډون کم رنګه کوي.

دا سیستم د یو ډیر شمیر نوماندانو د رامنځ ته راتلو سبب ګرځي. چې په دې سره دوی د نور څخه د ځان په توپیرولو کې ستونزه پیدا کوي او رایه ورکوونکي هم د نوماندنو د کړنلارو په تشخیص کې د ستونزې سره مخ کیږي .

د ولایتي شوراګانو په سیالیو کې په خاص ډول په ښاري سیمو لکه کابل او یا هرات کې نوماند هڅه کوي چې د ناڅرګنده کړنلارو سره ټاکنیزې مبارزې ترسره کړي. دوی د رایو د خپلولو لپاره اساسا په ټولنیزو او کورنیو شبکو باندې زړه تړي. د مثال په توګه په کابل کې د ۲۹ کرسیو لپاره ۵۲۴ نوماندان سیالی وکړه.
د سیاسي ګوندونو قانون د عدلیې په وزارت کې د سیاسي ګوندونو په ثبتونه کې رول لري- همدا اوس ۱۰۸ سیاسي ګوندونه ثبت شوي دي. که یو ګوند د ۷۰۰ نه کمی غړي ولري نو د ثبتیدولو حق نلري. قانون دا جوته وي چې ګوندونه باید د اسلام د اساساتوسره په تضاد کې نه وي، زور ونه کاروي او یا تهدید منځ ته رانوړي؛ قومی، توکمیز، سیمه ایز او دیني توپیرونو ته لمن و نه وهي، ګوندونه نباید د خلکو حقونه د ویرې سره مخ کړي او یا عامه نظم زیانمن کړي؛ دوی د پوځي ارګانونو سره اړیکه ونلری او د باندنیو منابعو څخه مالي مرستې تر لاسه کړي.

د ټاکنو د قانون پر وړاندې نارضایتی ډیرې شوي دي، چې په پایله کې هڅه وشوه ترڅو دغه قانون بیا وکتل شي، د مثال په توګه په ۲۰۰۸ کال کې ولسي جرګې څه تغیرات په نظر کې درلودل تر څو د ټاکنو د هیّت د غړو په ټاکلو کې قانون ډیر رول ولوبوي.
دغه وړاندې شوی قانون د ټاکنو په سیستم کې به د تغیر سبب شي تر څو د رایٔ ورکولو یو ګډ او متناسب سیستم باندې جوړ جاړی وشي. کوچیانو لپاره د قانوني څوکیو په ورکولو باندې د اختلاف له امله کوم نوې قانون را منځ ته نشو.
مګر د سیاسي ګوندونو په قانون کې تغیرات چې د هغوی د غړو شمیر له ۷۰۰ څخه ۱۰۰۰۰ ته پورته کړای شو تصویب شو مګر د ولسمشر د نه لاسلیک له کبله د قانون بڼه ئي ځانته غوره نکړه.

د افغانستان د اساسي قانون ۱۰۹مه ماده په د ټاکنو پ قانون کې تر هغه وخته د تغیراتو مخنیوی کوي چې یو کال د هغه د تطبیق څخه نه وي تیر شوی. ځکه نو د راتلونکي کال د پارلماني ټاکنو لپاره د هغه پر قانون د بیا کتنې لپاره ډیره ناوخته شوی دی.

**د ټاکنو اداره**

د ۲۰۰۴ کال ولسمشری ټاکني او د ۲۰۰۵ کال پارلمانی او د ولایتي شورا ټاکني د ټاکنو د اداری د ګډې ډلې یا **JEMB** لخواه چې مامورین ئي هم افغانان او هم نړیوال وو تنظیم شوې وې، دهغو ټاکنوڅخه په څرګند ډول د ملګرو ملتونو د ادارو لخواه ملاتړ شوی وو. د هغو ټاکنو څخه وروسته **JEMB** منحل شو او د ټاکنو خپلواک کمیسیون رامنځ ته شو او د ټاکنو د اداري مسوًلیت یې په غاړه واخیست. د ۲۰۰۹ کال ټاکني لومړی ټاکني وې چې د افغانانو تر رهبری لاندې ترتیب او بشپړې شو.

د ټاکنو خپلواک کميسيون اوه غړي لري چې د ولسمشر لخواه ټاکل کيږي. اوس د هغوی څخه دوه تنه ښځينه دي، ولسمشر د کميسيون رئيس او د هغه مرستيال ټاکي. د کميسيون غړي او د هغوی د فاميل غړی په سياسي چارو کې د بوختياحق نلري. د ۲۰۰۹ کال د فبروری په مياشت کې ولسي جرګې يو بل قانون تصويب کړ چې د هغې پر بنسټ د ټاکنو د کميسيون غړي بايد د ولسي جرګې موافقه هم تر لاسه کړي. ليکن ولسمشر کرزي هغه قانون له دې امله رد کړ چې د ټاکنو کميسيون يوه ګمارل شوې ډله ده. او کميسيون د خپلې خپلواکۍ د ساتلو د ننګونې سره مخ وو. په دغه ټاکنو کې د کميسيون لخواه اجرا شويو کړنو ته بی آعتنائي دا جوتوي چې د هغه اعتبار د هغه په خپلواکۍ کی نغښتی دی.

د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو طرحه په ځنډ سره پيل شوي وه، چې دا د هغه ټاکنو څخه را پديخوا چې څلور کاله د مخه ترسره شوې د افغان دولت او د نړيوال مرستندکونکو لخواه د يو استراتيژيک پلان د نشتوالي ښکارندوی دی. پدې زماني دوره کې ډير څه لکه د يو پلان وده تر څو د راتلونکې د ټاکنو امنيتي اړتياوې وڅيړی، د سر شميرنې په لاره اچول، د رائ ورکوونکو د نوم ليکنې د پروسې بيا رغول، د رائ ورکوونکو د روزنې لپاره هڅې او د شکاياتو د پروسې ښه کول ترسره کيدلای شوی. ذکر شوي شيان د تيرو ټاکنو په بهير کې تر ټولو مهم بلل شوي دي، مګر هغه موقع چې بايد دغه سمونونه د دې ټاکنولپاره ترسره شوي وای اوس له لاسه تللې ده. په ټول هيواد کې د رائ ورکونو د مرکزونو ليست د ټاکنو د ورځې څخه يوه اونی د مخله خپور شو او د ټاکنو د ورځې څخه ۲۴ ساعته د مخه يو شمير رائ ورکنونکو د ټاکنو د مرکزونو د ځای په اړه معلومات ندرلودل چې داغه کار به دې لامل ګرزيدلی وي تر څو يو شمير رائ ورکونکي ونکړاي شي چې د رائ ورکونې نيژدې مرکزونو ته لاس رسی ومومي او د هغوی د رائ ورکنونې حق ترې واخستل شي.

کمسيون د بودجه د کموالي سره مخ شو او زيار ئې ويست تر څو ۱۶۵۰۰۰ وړ کارکونکي د ټاکنو لپاره وګماري او هغوی وروزي. په خاصه توګه د ټاکنو د مرکزونو لپاره د ښځينه کارکونکو ګمارل د هيواد په ډيری برخو کې د کړکيچن امنيت له امله يو ستونزمن کار وو. د ټاکنو څخه يوه اونی د مخه IEC علان وکړ چې ۹۰ په سلو کې د رائ ورکونې او د رائ د شميرنې کارکونکي ئې ګمارلي. د NDI څارونکو دا وليده چې د ټاکنو د کارکنو روزنه په مسلکي او کره ټوګه ترسره کيده.

د ټاکنو د ورځې د موادو ويش دا ښووده چې د رائ ورکونې هغه پاڼو او تجهيزات د ويش لپاره چې د رائ ورکونې مرکزونو ته په وخت ليږدول شوي وو، سالم سيستم په پام کې نيول شوي وو. دا يوه وړه لوجيستيکي لاسته راوړنه نده; افغانستان د ملي لارو له نشتون سره مخ دی او د وګړو ډيری شمير ئې په لرې پرتو سيمو کې ژوند کوي. د ۳۵۰۰ په شا او خوا کې لاريو او له ۳۰۰۰ څخه ډيرو چراپايانو (خرو) څخه د جمهوري رياست د او ولايتي شورا لپاره د رائ ورکونې د ۳۵ مليونه څخه د زتا تو پاڼو د ويش لپاره په ټول هيواد کې کار واخيستل شو. د يو شمير سياسي ډلو استازو ته د رائ ورکونې د بهير څخه د څارنې د اجازه ْنامو ورکړه په سمه توګه تر سره نشوه. د استازو ډلې معلومات تر لاسه کړل چې د سياسي ټولو دفترونو ته د رائ ورکونې د بهير څخه د څارنې اجازه نامې د ټاکنو د ورځې څخه لا درې ورځې د مخه نوې ورکړل شوې چې دا کار د دې لامل شو تر څو دوی د رائ ورکونې لرې پرتو مرکزونو ته د رسيدلو لپاره لږ وخت په واك کې ولري. د ټاکنو څخه د څارنې په موخه، کميسيون له ۲۰۳۰۰۰ څخه ډيرو کانديدانو او د سياسي ډلو استازو، ژورناليستانو، کورني او نړيوالو څارونکو ته اختيار نامې ورکړې.

د کامپاين په دوره کې، ۳,۴ مليونه د رائ ورکونې امتحاني پاڼې وويشل شوې او تر ۶۰۰ زيات علانونه چې د رائ ورکونکو د پوهې کچه لوړوي د هيواد په لر او بر کې ځای پر ځای کړای شوی. د ټاکنو خپلواك کميسيون په ټاکنو او د رايو په مشيرنه کې د درغليو د مخنيوي لپاره تلويزيوني او راډيوئي خپروني جوړې کړې او په دې اړه يې د ګردي ميزونو او د ټولنو تر منځ د غونډو مالي لګښت پرغاړه واخيست. سربيره پردې، IEC تر ۱۶۰۰ زيات روزنکي وټاکل تر څو په ټول هيواد کې د ټيمونو په ښږه خلکو ته د رائ ورکولو د لارو په اړه معلومات ورکړي. د هيواد په جنوب او جنوب ختيز کي د امنيتي ناسم وضعيت له امله دغه بهير په سمه توګه ترسره نشو. سربيره پر دې IEC ونکړاي شوی چې د هغو سيمو لپاره چې امنيتي وضعيت ئې سم ندی ښځينه کارکونکي وګماري چې دغه مسئلې د رائ ورکونکو د روزنې د کامپاين اثر لا کمزوری کړ. د NDI څارونکو دا وموندله چې د رائ ورکونکو د پام وړ شمير د ټاکنو د دوهم ځل د ترسره کيدو د امکان په اړه معلومات ندرلودل. نو په دې توګه رائ ورکونکي

ممکن په دې نوي پوه شوي چې د دوی رايه به په داسې حال کې چې د دوی د خوښې کانديد برايالی هم نشي اثر ولري( د رايو د ٪۵۰ د وړلو څخه د بل کانديد د محروموول له لارې)

**د ټاکنو امنيت**

د ټاکنو لپاره طرحه شوي امنيت دري ساتونکي کړی درلودې چې متحدالمرکزه کړيو په توګه د رائ ورکوني د مرکزونو څخه را تاو وې. داخلي کړی چې د ټاکنو مرکز ته نيژدې پرته وه د افغان پوليسو څخه جوړه شوې وه. دوهمه کړی د افغان ملي ارود څخه او خارجي کړی د نړيوال امنيتي ځواك يا ISAF څخه تر څو د اړتيا په وخت کې د افغان حکومت سره مسرته وکړي، جوړه شوې وه. همدارنګه د استازو دلې معلومات تر لاسه کړل چې په قصدي ډول سره د قانوني مليشو څخه د امنيت د ټينګولو لپاره د پوليسو او ملي ارود د نشتون په وخت کې کار اخسيتل کيده. د دغه مليشو څخه د ګټي اخيستلو توجيه دا وه چې ګويا دغه ډول مليشي کولای شي په نا امنه چاپريالونو کې د ګډونکونکو د شمير په زياتيدو کې مرسته وکړي خو دا چې دغه مليشي په څرنګه ګمارل کيږي، په څه ډول به هغوی بودجه ورکول کيږي او تجهيزيږ. او چا ته به مسئول وي، وضاحت موجود نه وو.

IEC پريکړه وکړه چې د رائ ورکوني هغه مرکزونو ته چې د ملي ارود او پوليسو له خواه ئي امنيت نه نيول کيږي د ټاکنو مواد برابر نکري. NDI ماموريت د رائ ورکوني په روځ د دولتي قانوني مليشو شتون د رائ ورکوني مرکزونو ته څيرمه ندی ليدلی.

د پوليسو ګمارنه، روزنه او تجهيز يوه روانه ستونزه ده. د هغه ځايه چې پوليس د مليشو سره د مبارزې لپاره د لومړي خط په توګه شميرل کيږي، د هغوی مسلکي کونه يو کارار او ستونزمن بهير پاته شوی. که د مسلکي ملي پوليس ځواك د چوړولو لپاره لويي زېرمې ځانګړې شي، په ټاکنو کې د مليشه ځواك څخه د ګټې اخيستلو اړتيا به له منځ ولاړه شي.IEC د امنيت په اړه يو شمير پريکړې وکړې لکه د په يو شمير سيمو کې د رائ ورکوني د مرکزونو نه پرانيستل، د مرکزونو تړل او د هغو انتقال نور ځايونو ته او دهغو ادغام. د دغه امنيتي پريکړو لپاره دلايل معلوم ندي. په هغه حالت کې چې دغه مسئله د يو کانديد په ګټه تمامه شي سياسي رنګ ځانته غوره کوي. که IEC د دولت تر اثر لاندې وشميرل شي او د هغی آزادي تر پوښتنې لاندې راشي نو داغه ستونزه لا د اندېښنې وړ ګرځي
.

**د ټاکنو په اړه شکايات**

د ټاکنو د شکايات کميسيون يا ECC مسئوليت لري تر څو ټاکنو ته د دريدلو لپاره د کانديدانو وړتياوې وڅيړي او هغه ادعاو او درخواستونو په اړه چې په ټاکنو کې د درغلۍ په اړه دوي ته رسيږي قضاوت وکړي. دغه کميسيون د پنځو غړو څخه جوړ شوی: درې بهرنيان چې د ملګرو ملتونو لخواه ټاکل شوي او دو افغان کميشنران چې يو د افغانستان د پشر د حقوقو د خپلواك کميسيون او بل د ستري محکمې لخواه منصوب شوي.
په کال ۲۰۰۵ کې دغه کميسيون د ډير شمير نيوکو سره مخ وو چې تر ډيره دغه نيوکې د کميسيو څخه د زيرمو په پرتله د زياتو هيلو درلودلو له امله منځ ته راغلې. سره بيره پر دې چې يو شمير کانديدان د غير قانوني مسلحه ډلو سره د تړاو له امله نا وړ وبلل شول څو د عامو خلکو هيله دا وه چې يو ډير شيمر کانديدان به وړ ونه بلل شي. د شکاياتو په اړه ځند او ناوخته معلوماتو د دغه پروسې او د هغی د موثريت په اړه نا خوښي او بې اعتبارې تقويه کړه
.
د آګيست د رائ ورکوني د تللو پر لور، ECC زيار وايست تر څو هغه ويرې د ۲۰۰۵ کال په بهير کې منځ ته راغلې وې له منځ يوسي. د کميشنرانو په ټاکنه کې او هغوی ته د بودجه په ورکړه کې ځند د دې سبب شوه چې د کميسيون غړي د هغه مودې څخه ورسته چې اټکل ئې شوی وو په کار پيل وکړي. سره له دې، ECC د څيړنو په بهير کې درې د جمهوري رياست کانديدان او مرستيالان او ۵۴ د ولايتي شورا کانديدان نا وړ وبلل- ياد شوي ورستي کسان تر ډيره د غير قانوني ډلو سره د تړاو له امله له بهير څخه وويستل شول.

ECC د ټاکنو د شکاياتو ولايتي کيمسيون يا PECC په ټولو ۳۴ ولايتو کې لري چې دغه کار کميسيون ته دا توان ور ببني تر څو په ټول هيواد که شکايات را ټول کړي او هغو ته ځواب ووائي. هغه ننګونو په شان چې IEC وسره مخ وه، ECC هم د ځاروالانو او څیرونکو د بسايه شمير په ګمارلو کې په خاص ډول د مرکز څخه بهر ستونزه درلودله. سربيره پر دې، د رسمي کامپاين په وخت کې يو ډير شمير کانديدانو د NDI اوړد محاله ځارونکو ته د PECC د کارکونکو د بې مسئولتی په اړه رپوټ ورکړ چې دغه مسئله د دې لامل شوي وه چې کانديدان او د هغوی ملاتړي د شکاياتو د ثبتول سره مينه ونښئي. ځارونکو داهم وليدل چې د شکاياتو بهير ته عامه لاس رسی لږ وو.

دا سي انګيرل کيږي چې ECC خپله دنده په ډيرې ورتيا سره پر مخ وړي او يوه ډير مهمه ماموريت ئي تر سره کړ سره له دې چې ECC ته اړتيا په افغانستان کې فعال قضائي سيستم نشتون په ګوته کوي. په پای کې په دې اړه بايد يو داسي قانوني قضائي سيستم موجود وي چې د ټاکنو د پريکړو په اړه درخواستنه وڅيري. دغه پريکړې په ممکن د افغانستان د سياسي بهير پر پرمختګ اوږد محاله اثرات له ځانه سره ولري

**د رائ ورکونکو نوم ليکنه**

د بون د ۲۰۰۱ د ترون دريمه ضميمه يا ANNEX III د ملګرو ملتونو څخه غواړي چې د افغانستان د وکړو سر شميرنه ترسره کړي. ورستی کامله سر شميرنه په کال ۱۹۶۷ کې تر سره شوه او په کال ۱۹۷۹ کې يوه قسمي سر مشيرنه پيل شوه چې تر پايه ئي دوام ونکړ. د ملګرو ملتونه له خواه هغه سر شميرنه چې د ۲۰۰۸ کال د جون د مياشتي لپاره پلان شوي وه، د هيواد کې د کړکيچن امنيتي وضعيت له امله وځنډول شوه. خلکو سره هم اند يښنه وه چې که چيرته سرشميرنه د تاکنو په جريان کې ترسره شي نو کيدای شي چې سر شميرنې د پايلو څخه سياسي ګټه واخيستل شي. د صحيح او کره سر شميرنې نه پرته د تاکنو د کارکونکو او ځارونکو لپاره ډيره سخته وه چې د وکړو حجم او جنسي ويش معلوم کړي. د سر شميرنې په نشتون کې د رايو ورکونکو نوم ليکنه او د رايو ورکونکو برخه اخيستنه په تاکنو کښې په دقيقه توګه معلومول امکان نلرئ. د ۲۰۰۵ کال د رايو لپاره د نوم ليکنې په پروسه کښې په پراخه کچه درغلي شوي ده. د رايو نه وروسته انتخاباتی او دولتي ادارو د ا هوډ وکړچې د رايو ورکونکود نوم ليکنی او د عامه خلکو د نوم ليکنی ته له يو بل سره تړاو ورکړي ترڅو د رائ ورکونکو د لست صحيح او اصلاح کړي. لاکن هغه کوښښونه چې د ۲۰۰۸ کال په آخر او د ۲۰۰۹ کال په پيل کښې تر سره شوی د رايه ورکونکوبهير يي تازه کړی. د دې په نتيجه کې د نوم ليکنې کارتونه نورو ۴,۵ مليونه خلکو ته ورکړل شوی. بد بختانه د اسې يوه کړنلاره را منځته نه شوه چې د هغو خلکو چې پخوا يې هم د رايه ورکونې کارتو نه اخستي، د بيا کارت اخستنې مخنيوي وکړي شي. د محلي تاکنو اداره يا FEFA دا مشاهده کړي چې د تاکنو په پروسه کې ډير مشکلات موجود وه. لکه د مثال په ډول د جعلي کارتونوجوړول، کم عمره افرادو ته کارت ورکول او يوه شخص ته څو کارتونه ورکول. همدارنګه کله FEFA دا هم مشاهده کړله چې کله د تاکنو ميعاد را نژدې شول نو د رايه ورکوني کارتونه پيرل او پلورل کيدل. که څه هم د غو کارتونو خرڅلاو د پرچون په ډول تر سره شوي نه د عمده په توګه. دا هغه فکتورونه وه کوم چې د تاکنو په جريان کې د درغلی لامل شو.

په اکثره ځايونو کې د رايه د کارتونو شمير د همغه ساحې د نفوسو په تناسب زيات وه. په کوم کې چې کم عمره خلك هم راجستر شوي وه شامل وه. هغه کارتونه چې ښځو لپاره وه په کښې د عکس ضرورت نه ليدل کيده. همدارنګه په جنوب، جنوب ختيځ او ختيځ کې FEFA دا هم مشاهده کړه. چې د ښځو د رايه ورکولو کارتونه به د هغوي د خاوندانو لخوا تر لاسه کيدل. په زياتو ساحو کې د ښځو د رايه ورکولو د کارتونو د ثبت نام تعداد د سړيو د رايه ورکولو له تعداد څخه ډير لوړوه. چې په داسې ځايونو کې کلتوري موانع هم ليدل کيده او همدا وه چې FEFA په دې نتيجه ورسيده چې دا کارتونه په ځينو ساحوکې د تاکنو د درغلي لامل شول. ملي دموکراتيک انستيتيوت دا پلټنه وکړه چې دا مشکلات په ډيرې ساحو کې رامنځته شوي چې په هغو ځايو کې امنيتي مشکلات ليدل کيده او يا په هغو ځايو کې چې د ځارونکو تعداد په کې کم وه. ځينو ښځو نوماندانو دا پيشنهاد وکړ تر څوچې ښځې وکړلي شي چې رايه له خپل د هويت کارت څخه هم تر سره کړي. د ښځو لپاره که چيري د هويت کارت د دولت د ملي منافعو او يا ګټو اخستلو لپاره وکارول شي نو کيداي شي چې ښځې دې ته آماده کړي تر څو چې د رايه ورکوني کارت کې خپل عکس لګولو ته تياری شي.

<u>**د رياست جمهوری کانديدانو کمپا ينونه:**</u>

د اگست د ۲۰ لمه نيټي د رايه پاڼو کښي د يو څلويښت کانديدانو نومونه ښودل شوي ؤ. خو د ټاکنو د ورځې نه مخکي دريو کانديدانو خپل د نوماندي کاغذونه بيرته را واخستل. نو له دي نه پرته اته ديرش (۳۸) فعاله نوماندان په ميدان کي پاتي شول. د نوماندانو په شميره کي د تير کال په پرتله دغه زياتوالي وه چي د تير ځلي د جمهوري رياست ټاکنو لپاره دري ويشت (۲۳) نوماندان ولاړ وه. د ملي دموکراتيکي اداری يا NDI څارونکو وکتل چي نوماندانو خپل رسمي کمپاينونه په فعاله توگه ترسره کړل. او په همدي توگه د کمپاين په رسمي وخت کي يي مباحثي او مناظري ترسره کړي. برحاله جمهور رئيس حامد کرزی خپل رسمي کمپاين د مختلفو جنگسالارانو په واسطه په ټول افغانستان کي د ملي يووالي تر شعار لاندي په ډيره ښه توگه پر مخ يووړ. د شمالي ټلوالي پخواني قوماندان او د کرزی د مؤقتي اداري او په همدي توگه د کرزي د کابيني د بهرنيو چارو وزير عبدالله عبدالله خپل کمپاين کي د دي لپاره کار کاوو چي پر څو د صدارتي نظام قوت يا صلاحيت کم کړي او په عوض کي يي پارليماني نظام او ولايتي حکومت ته تقويه ورکړي. اکادميسن او د کرزی د مؤقتي اداري د ماليي وزير اشرف غني احمد زي په خپل کمپاين کي د اقتصاد پرمختگ، په کار گومارني او تعليم ته د لومړيتوب حق ورکړ. رمضان بشر دوست چي د کرزی په کابيني کي د پلان وزير او په برحاله پارلمان کي د کابل د خلکو استازي دي. خپل کمپاين يي د اداري فساد د شعار لاندي پر مخ يووړ. دوو نورو ښځو هم خپل کمپاين د اداري فساد تر شعار لاندي پر مخ يووړ. مطرح نوماندانو خپل معاونين له مختلفو قومونو انتخاب کړل تر څو چي ملي مساوات په نظر کي ونيول شي.

د انتخاباتي کمپاين د رسمي وخت په جريان کي د NDI څارونکو دا وکتل چي څرنگه مختلفو نوماندانو وکړي شو چي د افغانستان په مختلفو برخو کي د مختلفو نژادو خلکو ته خپل انتخاباتي کمپاين وکړي. د مثال په توگه عبدالله عبدالله وکړي شو چي د کندهار په ولايت کي خپله انتخاباتي غونډه جوړه کړي چي څلورو زرو (۴۰۰۰ ) نه زياتو خلکو په کي گډون درلود. همدارنگه حامد کرزی د هرات او څو نورو شمالي ولايتو کي خپلي انتخاباتي غونډی ترسره کړی. مطرح نوماندانو د جمهوري رياست په ټاکنو کي د خپلواك نوماند په حيث گډون وکړ نه د يو گوند په نمايند ه گي. خو بيا هم ځيني نوماندانو د گوند په کومك او يا هم په تړاو سره رايي تر لاسه کړی. د مثال په توگه عبدالله عبدالله چي د ملي جبهي لخوا نوماند وه کوم چي د مختلفو نژادو څخه جوړه شوي او د کرزي د حکومت مخالفه ډله ده.
د افغانستان په تاريخ کي د لومړی ځل لپاره د جمهوری رياست د نوماندانو لخوا په محضر کي مناظري وشوي کوم چي د ملي تلويزونونو او رادوگانو لخوا په ژوندي ښه خپري شوي. په دي لړي کي لومړي مناظره د طلوع تلويزون له طريقه په ۲۳ د جولاي ۲۰۰۹ کال نشر ته وسپارل شوه. چي لس مليونو نه زياتو افغانانو تري ليدنه وکړه. پدي مناظره کي د دريو مطرح نوماندانوهر يو عبدالله عبدالله ، ډاکټر اشرف غني احمد زي ښکښي گډون وکړ او حامد کرزي په کښي برخه وانخسته. د مناظرو په لړي کښي د ملي راډيو تلويزون لخوا يوه بله مناظره د اگست په ۱۶ لسمه جوړه شوه چي په کي دري مطرحو نوماندانو هر يو حامد کرزي، اشرف غني احمد زي او رمضان بشردوست په کښي گډون درلود. منجمله يوه راديووي گردي ميز هم برابر شوه چي په کښي ټولو مطرحو نوماندانو ونډه واخسته. د ټاکنو د رسنيو کميسيون کوم چي د ټاکنو د خپلواك کميسيون لخوا جوړ شوي ده دا دنده لري تر څو چي په ملي رسنيو کي د ټولو نوماندانو د انتخاباتي پروسي توازن برقرار وساتي. دي کميسيون دا خبره په ډاگه گړي چي د ۲۰۰۴ کال د ټاکنو را پديخوا د ټاکنو په هکله د خپرونو ساحه پراخه او وسيعه شوي او خلکو ته د ټاکنو په اړه ډيره آگاهي وړاندي شوي. دي کميسيون دا راپور هم ورکړي چي د ۲۱ جولاي نه تر ۴ اگست پوري هغه انتخاباتي خپروني چي نوماندانو د خپل انتخاباتي کمپاين په هکله وي. د ملي راډيو تلويزون لخوا ۹۱ فيصده کمپاين يوازی حامد کرزي ته، ۲ فيصده عبدالله عبدالله ته او يواځي ۱ فيصد بشردوست ته ترسره شوي چي د نوماندان د حامد کرزي د نژدي رقيبانو له جملي څخه دي. د رسنيو کميسيون دا هم په گوته کړي چي د۶ جولاي او ۴ اگسټ په جريان کي چي ملي راديو تلويزون د نوماندانو په هکله چي کومي خپروني کړي په هغي کي ۶۸ فيصده حامد کرزي ته ، ۱۰ فيصده عبدالله عبدالله ته او يواځي ۳ فيصده انتخاباتي کمپاين اشرف غني احمد زي ته شوي دي. کميسيون د ملي راډيو ټلويزون نه دا رسمي غوښتنه وکړه چي د نوماندانو د انتخاباتي خپرونو په هکله چي کوم غير مساوي توازن شوي بايد معلومات ورکړي خو پس لدي د رسنيو کميسيون کوم بل اقدام ونکړ.

د رسنيو لپاره کوم مقررات او اصول چې د ټاکنو د خپلواك کميسيون لخوا مقرر شوي، دا ذکر کوي چې دوي د ټاکنو راپور په بې طرفانه، مساويانه او په صحيح ډول جوړ کړي. دولتي رسنيو د دغه مقرراتو او اصولو مطابق خپروني ونکړي او بد بختانه د رسنيو کميسيون د دغو دولتي رسنيو په خلاف کوم قانوني چلند ترسه نکړاي شو کوم چې د دوي په واك او اختيار کې وه. مګر دي کميسيون هيڅ قانوني اقدام ونکړ.

د افغانستان شخصي رسني کوم چې په کال ۲۰۰۲ کې منځ ته راغلي وي د دولتي رسنيو په پرتله دا توازن په ډيره ښه توګه وساتلي شو.

په کال ۲۰۰۸ کښې د افغنستان ولسي جرګي يو قانون تصويب کړ د کوم په اساس چې د دولتي خپرونو سيستم رامنځته شو، تر څو چې د ملي راډيو ټلويزون خپلواکي له دولت څخه وساتي کوم چې محترم حامد کرزي لاسليك نکړ.

**<u>د ولايتي شورا کمپا ينونه:</u>**

ولايتي شوراګاني په محلي سطحه باندي يواځيني انتخاب شوي ارګانونه او ډيرى مهمي عضوي دي. او د يو سوکاله او باثباته افغانستان په جوړيدو کې خورا مهم رول لوبوي. ولايتي شوراګاني د دولت او خلکو په منځ کې نيغ په نيغه ارتباط يو ستره وسيله ده. د اګست د مياشتي د ولايتي شوراګانو په ټاکنو کښې د ۳۱۹۶ نوماندانو په منځ کې د ۴۲۰ ولايتي شورا څوکيو لپاره مقابله وشوه چې په دغه شميره کې د ۲۰۰۵ کال په پرتله ۱۷۱ نورو زياتوشوو نوماندانو ونډه واخسته. خو بيا هم دا زياتوالي په ابتدايي توګه په شمال ، شمال شرق او په مرکزي ساحو کې ليدل کيده. چې د دي په پرتله په جنوب او جنوب شرقي برخو کې د راي ورکولو په پاٌنو کې کم نوماندان تر سترګو کيدل. د ولايتي شوراګانو ۲۵ فيصده څوکې د ښځينه نوماندانو لپاره مختص شوي چې په کې ۳۲۶ ښځو نوماندانو ونډه واخسته او مقابله يي وکړه. چې د ۲۸۵ نوماندانو څخه يي شميره زياته شوه کومو چې د ۲۰۰۵ کال په ولايتي شوراګانو ټاکنو کې ګډون کړي وه. په کندهار او ارزګان ولايتونو د ښځينه نوماندانو شمير د مختص شوي شميره څخه هم کم وه.

د ولايتي شوراګانو د ۸۰ فيصده زيات نوماندان خپلواك کانديدان وه خو بيا هم د ديرش ګوندونو نمانيده ګان په کې شامل وه. او ۱۱ لسو ګوندونو کم تر کمه د ۱۰ لسو کانديدانو پلوی کوله. جنبش په ۱۰ لسو ولايتونو کې د ۸۰ څخه زيات کانديدان درلودل. د خلکو د اسلامي وحدت په ۱۱ لسو ولايتونو کې د ۵۰ سو څخه زيات کانديدان درلودل. او حزب اسلامي په ۱۴ لسو ولايتونو کې د ۴۰ څخه زيات کانديدان درلودل. هغه کانديدان چې د ګوندنو په تړاو جنګيدل، اکثريت يي په شمالي سيمو کې ليدل کيده. هغه ګوندونه چې NDI ورسره مرکي ترسره کړي وي په دي لټه کې وه چې څنګه خپلې رايي په ولايتونو کې تقسيم کړي تر څو چې ډيري څوکي تر لاسه کړي. د NDI څارونکو دا مشاهده کړله چې حزب اسلامي او حزب جمهوري(د افغانستان جمهوري ګوند) د مثال په توګه خپلوکانديدانو ته هدايت کړي وه چې په ولايت کې يواځې په ټاکل شوي سيمو کې خپل کمپاين ترسره کړي تر څو چې د ګوند د مختلفو نوماندانو تر منځ رايي ضايعه نشي.

د ولايتي شوراګانو د کمپاينونو کړنلاره په افغانستان کې مختلفه وه.په هغو مناطقو کې چې امنيت ښه ده، خلکو په پراخه توګه په ټاکنو کې ونډه واخسته. خو د افغانستان په جنوبي ساحو کې چيرته چې هغه خلك چې په ټاکنو کې يي ګډون کوه، د طالبانو د ګواښ سره مخامخ شول. او په داسي ساحو کې اکثريت کمپاينونه د شخصي کورونو په څلور دروازو کې دننه ترسره شول.
طالبانو په ډير فعالنه توګه د ټاکنو په ورځ ګډونکونکي په ښنه کول، له همدی کبله ډيرې کمپاين په شخصی کورو کی تر سره شول، د بيلګې په توګه، د DIN څارنکو له کندهار او کندز ولايتو څخه رپوټ ورکړ چې ولايتی شورا ته ډير کم خلک کمپاين وکړ، او کانديدان د کيلی د مشرانو او د مذهبی استاذو مرسته د بند دروازو شاته وغوښتل. وړد مهال څاړونکي چې ډير مودی پوری هلته ول رپوټ ورکړ چې د څه کانديدان و نه غوښت ترڅو د راډيو په پروګرمونو کی را څرګند شي، ده ډار له کبله.

**۴: د ټول ټاکنو ورځ:**

د ول ټاکنو په ورځ، د هیواد په ځینو ځایو کی ټاکنی په آزادنه ډول ترځره نه شو، د ولایتونو په مختلف سیمو کی ډیر شمېر رای ورکونکی د امن او صولی په فضا کی د رای اچونکی مرکزو ته لاړل، چیرته چی د طالبانوحملو او دهشت گمان کیده. بامیان، او شمالي ولایتونه د ډیر رای ورکونکو او ګډونکو شاهد ول. طالبانو خپل مخالفت د ګډونکو پر ضد ځرګند کړ، او هم د هغو د گوتو پریکولو چی په رنګ ککړی وی، د جنوب ختیځ، ختیځ، شمال ختیځ او د مرکز په ځینو سیمو کی حراس او اندیښنه فضای جوړکړي ول چی له همدی کبله په همغه شمېر چی د نارینو ګډون لړ وه، به همغه کچه د ښځو ګډون هم لړ لیدل کیده. ده ټول ټاکنو نه یو شپه تر مخ ده چاروکو له خوا د ټولو رسانیو نه دا هلیه وشوه تر څو د سهر ۶ بجو نه تر مخام ۸ بجو پوری داسی کوم راپور چی د خلکو د اندیښنې لامل وګرځی ، اخپره نه کړي.

**د رای ورکولو بهیر:**

د شمال، مرکزی او لویدیځ سیمو کی، د راچونکی بهیر په ډیر ښه ډول ترسره شوه، سربیره په دی چی ډیر کم پیښی ترسره شول. په دغه سیمو کی د ښځو ګډون ډیر ښه وه، او په ډیر مینه خلکو د رای اچونکی صندوقو ته لاړل. کابل ولایت، په خاصه توګه د کابل ښار د خنډو شاهد وو،د بیلګی په توګه، د ټاکنو مواد او ځیني نور داسی پیښی د ورځ په پای کی را منځ ته شوي چی ټاکنو کی یی خنډ را منځ ته کړ. جنوب او جنوب لویدیځ کی ځینې امنیتی پیښی رامنځ ته شوي چی له همدی کبله خلکو د رای ورکولو سیموته د تللو څخه ډډه وکړه. د څارنکو د رپوټ له مخی، هغه سېمی چی نا امنه وې، د ټاکنو مرکزونه پرا نه نیستل شول. د ټاکنو خپلواک کمیسون رپوټ ورکړ چی د ټول ټاکنو په ورځ ۶۱۹۲ مرکزنو د رای اچونکو لپاره پرانیستل شوي ؤ.

د ټاکنو په ورځ د ګن شمېر خلکو ګډون له دی لامل وګرځیده ترڅو د ټاکنو خپلواک کمسیون له خوا یو ساعت اضافی وخت د رای اچونکو لپاره ورکړل شو. د DIN د رپوټ له مخی دغه اضافی وخت چی د ټاکنو د خپلواک کمسیون له خوا ورکول شوی و، څه اغیزه یی پر ټاکنو نه درلوده، او هم د کورنیو څارنکو نشتوالی په دغه آخری ساعت کی د . او دغه یو ساعت اضافی هیڅ څوک ته په داګه نه وه، او په ځینو سیمو کی د ټاکنو مسولین دغه اضافی وخت مراعت وه نه کړ او په ۴ بجو د رای شمېرنی بهیر شروع کړ.
په ټول هیواد کی، د ټاکنو مسولین د سوری کولو ماشینو سره ستونزې درلودلی. په چټکی سره د ټاکنو خپلواک کمسیون ټولو مسولینو ته هدایت ورکړ ترڅو د قیچي په مرسته کارتونه سوري کړي او څارونکي رپوټ ورکړ چی دغه ستونزه خاصه اغیزه د ټاکنو د نه ترسره کیدلو باندی وه نه کړ خو څه شمېر څارونکو رپوټ ورکړ چی په ځینو سیمو کی د بی کیفیته رنګ څخه ګټه واخیستل شوو خو بیا هم دغه ستونزه د ټاکنو په بهیر څه اغیزه وه نه کړ.
دټاکنو په ورځ یو شمېر کسانو درای ورکولو په مراکزو کی دخپلو کارتو څخه سوی استفاده وکړه. دغه درغلنه په جنوبي او جنوب ختیځ ولایتونو کي په لړه کچه لیدل شوي ده.
په ټول هیواد کی، پوسټرونه او نور د کمپاین توکی د رای ورکولو مرکزنو په ۱۰۰ متری کی او د ننه نصب ؤ، کاندیدانو او د هغوی ملاتړ کونکو له خوا هم کمپاین د ترسره کیدو چی د کار د قوان پر خلاف ده چی دا کار د ټاکنو پر مهال د هیواد په ډیري ځایو کی ولیدل شو. ***د رایو شمیرنه***

د جمهوري ریاست لپاره د رایو د پانو شمیرنه د ټاکنو د ورځي په پای کي او د ولایتي شورا د کاندیدانو د رایو مشیر د ټاکنو د ورځي څخه یو ورځ ورسته پیل شول. د کتوري ریواجونو او د هغه وړاند وینې پر بنست چي ښځینه رائ ورکونکي باید ماسپښین د وخته خپلو کورونو ته ستنې سي د رایو شمیرنه د ښځو د رائ ورکوني په مرکزونو کي راتلونکي ورځي ته وځنډول شوه. څارونکو دا ومونده چي د ټاکنو کارکونکي د رایو د مشیرنې د پروسیجر ښه وړتیا درلوده خو په هم هغه ولایت کي د ټاکنو د ښځینه مرکزونو کارکنونکي په دې اړه لړ څه سمي نوې روزل شوې.

***د ښځو ګډون***

ځارونکو رپوټ ورکړ چې د باميانو د ولايت او هغه ولايتو څخه پرته چې په شمال کې دي، د ښځو د ګډون کچه خورا کمه وه. په حنوب او جنوب لويديز کې په يو شمير خاصو مرکزونو تقريبا يوې ښځې هم رايه ورنکړه. د رائ اچوني د ښځينه مرکزونو د کارکونکو او د تلاشي د کسانو د ځای د ډکولو په موخه، ***IEC*** د جوماتونو د ملانو او د ښځو د ټولنو مرسته خپله کړې وه، ځارونکو وليدل چې په هغه مکاتبونو کې چې د ښځينه مرکز په توکه ئي کار کاوه ښځينه ښونکې د تلاشي او د ټاکنو د کارکونکو په توګه په کار اخته وي. يو شمير افغان ښځينه ځارونکو د ښځو په مرکزونو کې د نارينه کسانو شتون د ښځو د نه ګډون د لامل په توګه په ګوته کړ.

***د ټاکنو په ورځ تاو تريخوالی***

په ټاکنو پورې د اړوند تاوتريخوالی او د تاوتريخوالي د تهديداتو رپوټ د هيواد په مختلفو برخو کې وکړل شو چې د رائ ورکونکو، د سياسي ګونډونو د استازو او ټاکنو د ځارونکو پر ګډون ئي اثر وکړ. د ټاکنو د مرکزونو د منځه وړلو په موخه د طالبانو او نور مسلحه ډولو لخواه د راکيټونو، هاوانونو او ځاوديدونکو توکو څخه د شمال ختيز، ختيز، جنوب، جنوب ختيز او مرکز په يو شيمر خاصو ځايونو کې کارو واخيستل شو. په يو مشير ډيرو ولايتو کې د رائ ورکوني مرکزونه د طالبانو او نور مسلحه ډولو د تهديدونو له امله وتړل شوي او ياهم د سره د هغو پرانيستنه ونه شوه. په کابل کې د فولادي کړی يا د موترو د پلټني د يو شمير هغو ځايونو څخه بهر چې په لومړي سر کې د افغان پوځ او افغان پوليس ځواکونو لخواه اداره کېدل تاو تريخوالی رامنځ ته شو.
په رائ ورکونکو کې ويره په مختلفو ډولونو سره وليدل شوه چې دغه ويره د ټاکنو د کارکونکو ځورونه د طالبانو او نورو مسلحه ډلو له خواه هم رانغاړله. د غه شان وير په ټوليزه توګه موجوده نه وو خو دغه پيښې په جنوب او جنوب ختيز کې زياتې وليدل شوې.

**V. استازی او د هغو کار**

د ټاکنو د کره او کاملي ارځوني لپاره بايد د پروسې ټول اړخونه په پام کې ونيول شي او هيڅ ټاکني نشی کيدلای د سياسی بهير څخه خالي وي. هغه عوامل چې بايد ورته پام وشي عبارت دي له: د هغو ټاکنو لپاره چې د اساسي قانون لخواه تنظيم شوي کاري قانونی چوکاټ، د ټاکنو او اړوند قوانينو په شمول; د سمو معلومات د موندلو او لاسته راوړلو لپاره د وګړو وړتيا چې د هغو په رڼا کې سياسي پريکړې وکړي; د وګړو د حمايت د خپلولو لپاره د سياسي سيالانو وړتيا، د کانديدانو او موضوعاتو د پوښښ لپاره د ټوليزو رسنيو اجراآت، د سياسي سيالانو لپاره آزادي تر څو سياسي او ټاکنيز بهيرونه پرته له کومې ويرې ترسره کړي، د هغوی د انتخابونو لپاره مجازات او يا مکافات، د رای ورکونکو د نوم ليکنې د بهير ترسره کول، ټاکنو لپاره د دريدلو حق، د رايو د اچولو ترسه کول، شميرنه، د پايلو جدول بندي، د پايلو انتقال او علان، د ټاکنو شکاياتو ته ځواب وينه، او هغو کسانو لپاره د دفترونو جوړونه چې په دې موخه ټاکل شوي. په ياد مو وي چې د ټاکنو هيڅ کاري چوکاټ کامل ندی او ټول سياسي او ټاکنيز بهيرونه د ننګونه سره مخ وي.

استازی د رای ورکونکو، د ټاکنو د مامورينو، کانديدانو، د سياسي ګوندونو د مشرانو، د ټاکنو د کورنيو ځارونکو او د ملکی فعالانو د مرستو او ښه و چلند څخه منندوی دی

**د NDI سره د اړيکي معلومات**

د لا زياتو معلوماتو لپاره په کابل کې د Susan Carnduff سره په 798137023 93+ شميره او يا scarnduff@ndi.org بريښنا ليک او په واشنګټن ډي سي کې د Peter Manikas سره په 5500 728 202 1+ شميره او يا peterm@ndi.org بريښنا ليک له لارې اړيکه ټينګه کړئ.